# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| اجتماعی | Social |
| --- | --- |



منصور احمد زی- المان

۰۲ اپریل ۲۰۱۱

## د افغانستان یوشمیرستونزی
## دافغانانوپه بنیادی خصلتونوپوری اړه لری

زموږولس اوخلک داسی عادات او رسوم لری چه که په دقت سره هغه ته فکر وشی دا په خپله دهغوی د پیداینت اوبنیادی خصا یلو یوه برخه ده چه هر افغان دری خصلتونه لری .
لمړۍ برخه: بنیوی یعنی نه یی له بل نه کسب کړی وی اونه په میراث ورته پا تی وی خودی هغه عا دات خا مخا لری، کسبی هغه عادات او خویونه وی چه دیوه محیط نه دماحول نه اودده دتکامل اوار تقا په اوږدو کی یی زده کوی، ارثی یعنی هغه عادات اورسوم چه دده په والدینو کی وی او ده ته انتقال شویوی او دجنیتک یا وراثت عادت وی .
دویمه برخه: هغه عادات اوخویونه چه دنورو ملکونو ولسونه یی نلری اودوی داد خپل ژوند او کلتوریوه برخه گرځولی ده لکه په نرمه او دلاسا ینه هر یوشی منی دبل مشکل په مفته په غاړه اخلی او هر نوع قربانی ته یی هم تیاروی خوکه همدا خبره ورته په سخته یا زور سره وکړی نور که بیا سمه هم وی خرابوی یی.
ډیر ژرتقلید کوی زمونږ دملک یو پاچا سید بزرگ ته هم که دخارجی هیواد یو فورم ورکړی مخکی لدی چه هغه قبلیږی اوکه نه قبلیږی دده نوره ټوله کورنی له همغه ساعته لاس په عملی کیدو پوری کوی .
سرزوری او بی ځایه دانرژی مصرفول خو ددوی په خاوروکی وجود لری که د منطق او دلایلو کتاب ورته ختم هم کړی بیا به هم دی خپله کوی .
میلمه پالنه ددوی دکلتور عنعنی دوداودستور یوه برخه ده که د ناداری څخه مری هم مگر دمیلمه پا لنی څخه به تیر نشی.
جنگ اودښمنی داددوی دبی منطقی هغه تحریک کونکی ضد ده چه په پیسو یی غواړی .
انتقام اخستل کله یی چه وار برابر شی صرفه نه کوی او دانتقام نه اخستل پیغور گڼی.
خود خواهی لکه چه یوشاعر وایی :

خود ستائی پیشهٔ شیطان بود هرکه خودرا کم زند مردان بود .

مگر دوی دشیطانی په عاد ت باندی فخر هم کوی اوکه دی ورته وویل چه دابښه کار ندی نور ددوی شیطان نور هم مست یا فعا ل کړ .
کبر او غرور افغا نان ډیرکبرجن دی په لږه قناعت نه کوی دغټی گولی په فکرکی وی ځان دچا څخه کم هم نه گڼی .
عدم روا داری حسد لری او دبل سره درواداری په ډول خبری هم نه کوی او کله چه یوه شی چه دا زما په نسبت دیوی مسألی او یا هم یوه کار برلاسی دی اول هغه خرابوی اوبیا دبل په زور خپل کا ر تر سره کوی .
وحدت نه کول یونظر نه در لودل، دیوی رهبری نه در لودل په گرانه یعنی مشکله لاره تلل، هر ډول پرابلمونه یعنی ستونزی ایجادول، دا ملک دا خلک دا وطن او دا هر یو شی بر با دول، دخپل ورور خبری ته اهمیت نه ورکول، ددی ټولو نا خوالو ایجا د اوفسا د کول، ددی علتونو هغه ترخه محصولات یا لاس ته راوړنی دی چه نن ورځ یی زموږ قوم زغمی او دا کوشش هم کوی چه دا گنا ه دنورو پر غاړه ور واچوی او بیا دا ووایی چه دا هغه وکړه .
که دا قوم له یوی خوا دا عا دتونه او خویونه لری له بلی خوا بی تعلیمی هم دی .
افرا طی بیماری دا قوم په افراطی بیما ری هم اخته دی یعنی هرکا رچه کوی په ډیرافراطی ډول سره یی کوی

اوس گورو چه ددی خویونو او عا دتونو په درلودلو سره دوی د کومو اشتبا ها تو مرتکب شویدی .

اول کله چه دکا بل رژیم دنجیب په وجود کی ړنګیدو ته نږدی شو نور له مشره نیولی تر کشره پوری یو هم حا ضر نه شو چه هغه ته تن کیږدی اودا ملک دا خا وره او موجوده اردو ( نظامي قوت) او نظا م له تباهی نه وژغوری اونن گورو چه خا د کا م کی جی بی او ستم سره یو ځای دی .

کله چه کا بل کی واګی ربا نی مسعود اود ببرک کشمیری دتاریخ بد نا می د لی پریښو نو پلاس کی واخیستی ملی اردو منحله شوه چه دا خبره تر او سه پوری گونګه پا ته دئ ځکه چه ربا نی او مسعود په هغه وخت کی او تراوسه پوری وایی چه اردو صبغت الله مجددی منحله کړه که دا حقیقت ولری اومجددی سکوت اختیاروی نوردا به دنوموړی لپاره لوی مسؤولیت او تاریخی بد نا می وی گرچه دچور خبره خو څرګنده دئ اوله هغه څخه څوک سترګی نشی پټو لی چه هر څه دمسعود او ربا نی په اختیار کی وه اولږو ډیری شوکی نورو هم وکړی لکه وحدت او دوستم چه له پخوا د ګلم جم یا ګلم چور په نوم مشهور او همدایی شغل وه اصل مطلب دامردئ چه چا داامر کړیدئ .

کله چه د بن په غونډه کی دافغا نستان په باب تصمیم نیول کیده هلته ډیر ی ستونزی موجودی وی مثال

۱- هغی ته داشتراک په خلاف تلاشونه شروغ شول

۲-مطلوب کسا ن وره نغلل دملت نما یندگا ن نه تر سترګو کیده انګک او بنګک دیو تعداد محدودو اشخا صو سره ورغلل .

۳- مسا یل دنورو په خوښه چه دامریکی داستخبا راتی شبکی یعنی سی ای ای نظر تر ټولو مهم وه ځکه هغو خپلو ګمارلو ته واګی پلاس کی ورکولی چه هغه کسا ن دامریکی داستخبا راتی شبکی مشر دافغا نستا ن لپاره ( گری شرون) چه له پخوا یی دپنجشیر له قو ما ندا نانو سره ار تبا ط درلوده او په خپل کتا ب کی یی هم لیکلی دی دهغوی په خوښه مسا یل تر تیب شول .

۴- دکا بل چوکئ دیوه خا ص محدو اقلیت یعنی دیوی وړوکی سیمی څوتنو له لور ی چوراو غصب شوی هغه متل دئ چه وایی زور کا کا است که انګور در تا کا است او یو اقلیت یی دیوه لوی اکثریت بر اوږو ور کښینولږ لکه ننئ ګور جستان د پخوانی شوروی ایالت او له همدی وروسته د نا آرا میو سبب هم شو چه دلته هغه متل راپه یادیږی چه وایی( له نشته میږو ملک دی شه میرو)

افغا ن حا کم دافغا نا نو کور وران کړخپل یی جوړ کړدستم دوستم خا د کا م روسی امریکی هره خوا یی برابره کړه مګر دپښتون کور یی د خا ورو خمیره کړ اوس له هغه نه بیزاری او نا راضی او مخا لفت پیل او هغه هم دقلم په خوله دا کوم عمل ده او کوم اثرات لری ..........

افغا نا ن دښمنا ن ډیر لر ی په خاصه توګه پښتا نه او یو بین ا لمللی سازش دپښتنو په ضد روان دئ او هر کس او نا کس نن دپښتنو پښو ته ډبری ورغورځوی نورپکار دادئ چه دټو لو لارو څخه تیر د تعلیم یوالی او یوی واحدی مشر تیا لاری با ید ولټول شی .

دسمسور او با امنه افغانستان په امید

پای

***یادداشت:***

*ضمن ابراز امتنان و خیر مقدم خدمت آقای"احمد زی" باید بنگاریم:*

*از نظر ما روانشناسی یاجتماعیک ملت آنهم با سوابق تاریخی مردم افغانستان را در یک و یا دوصفحه بیان داشتن، کاریست بس مشکل و حتا نا ممکن. چه چنان تلاشی نه تنها خالی از کاستی و کمی نخواهد بود چه بسا در برخی موارد راه خطا نیز پیموده شود. به همین اساس پیشنهاد ما آن است تا نویسندگان و قلم به دستان نخبۀ کشور که در این زمینه معلومات دارند، بدون آن که به رد و یا تأئید نکات مطرح شده در نوشتۀ آقای "احمدزی" وقت خویش را اختصاص دهند، بهتر خواهد بود تا نکات طرح شده را به مثابه سرآغاز، برای یک بحث جدی در زمینه دانسته، بکوشند جهات متعدد آنرا به قدر کافی روشن نمایند.*

*با عرض حرمت*

*اداره پورتالAA-AA*